AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولی ارین

۲۰۲۰/۰۵/۱۷

# د سولې دوښمنان

## (لومړۍ برخه)

په هیواد کې د څلورو لسیزو جګړو په بهیر کې څو واره د جګړې د ختم او سولې له پاره هلي ځلي تر سره شوي، مګر په خواشینۍ سره چې هر وار د سولې بهیر له ستونزو او ناکامیو سره مخ شوی دی، دا ځکه چې په هیواد کې روانه جګړه د افغانانو جګړه نه ده، بلکې هغه ناولي نیابتي خونړۍ جګړه ده چې د نړۍ د وسلو د تولیدونکو هیواد او د حریصو ګاونډیو له خوا پر افغان ولس تپل شوې ده .

په هیواد کې روانه جګړه بین المللي ستراتیژیک، اقتصادي، سیاسي بُعدونه او موخې لري، چې د افغانستان د بشپړ سیاسي استقلال د لاسته راوړلو وروسته چې د غازی امان الله خان په مشرۍ تر سره شو، د انګریزانو د دې ماتې وروسته په دغه سیمه کې د پاکستان را جوړول او په فلسطین کې د اسرائیلو د هیواد په نامه ځواک جوړول، هغه څه دي چې د زبرځواکو تاقتونو د ستراتیژیکو موخو د عملي کولو له پاره ترې ښه پوره ګټه تر لاسه کړای شي.

د سړې جګړې پر مهال کې کله چې نړۍ دوه قطبي وه، هر لوری غوښتل چې نړۍ کې خپل سیاسي، اقتصادي او د ستراتیژیکو ګټو د ټینګولو او ساتلو له پاره هلي ځلي وکړي .

افغانستان چې تازه د انګریزی استعمار نه ازادي تر لاسه کړې وه، هم د دغو دوو قطبونو ښکار باید ګرزیدلي وای .

د هیواد د ستراتیژیک موقیعیت او په شمالي پوله کې د پخواني شوروی اتحاد سره د اوږدې ګډې پولې له امله شوروی اتحاد ته خورا په زړه پورې و، چې زموږ هیواد سره نږدې اړیکي ولري او همدا ډول د پاکستان موجودیت چې په ورستیو کې یې د یو هستوی سلا لرونکی هیواد په توګه ورته په دغه سیمه کې د امریکا سره په نږدیوالی کې ستر ګواښ و، په ټول ځواک او امکاناتو سره کوښښ وکړ تر څو زموږ ګران هیواد افغانستان خپل او ځانته یې نږدې کړي.

افغانستان سره د شوروی اقتصادي، نظامي او سیاسي مرستو شوروی اتحاد خپل ارمان ته ورساوه او د شوروی پلوه د خلکو دموکراتیک ګوند له لوری سیاسي قدرت تر لاسه شو، مګر حریف یې بل زبرځواک امریکا، سمدلاسه د هغه وخت د دولت له مخالفینو سره د اړیکو په ټینګولو سره د میلونونو ډالرو په مرسته د افغان وژنو اور راتود کړ چې دا دی تر اوسه دوم لری.

په افغانستان کې د سولې هلي ځلي اوسنی خبره نه ده. د ډاکتر نجیب الله د حاکمیت په وخت کې د شوروی او متحده امریکا په همغږۍ او د ملګرو ملتونو تر څارنې لاندې د بینن سیوان په استازیتوب چې د ملګرو ملتونو د استازی په توګه یې لکه دا اوس چې خلیل زاد اخته دی خورا زیاتي منډې رامنډې ووهلي، مګر د داکتر نجیب الله د نظام په اساسي څوکیو کې د یو شمیر، نجیب ته خاینو عناصرو شتون او له بل پلوه د هیواد د کورنیو او بهرنیو دښمنانو له لوري چې شخصي او نورې ستراتیژیکي ګټې یې له لاسه ورکولې، د یو شمیر هیواد پلورونکو له لوري چې د ګاونډیو هیوادو د اسارت او مریتوب حلقې یې په غاړه کې پرتې وې، د سولې پروګرام یې سبوتاژ، نظام سقوط او په هیواد کې یې داسي لوی غوبل رامنځ ته کړ چې دا دی تر همدا اوسه هم دوام لري.

هغه وخت او زمان ونبوده چې د سولې د پروګرام د سبوتاژ او ناکامیو تر شا د چال اسونه وو؟ هدف یې څه و؟، چا په کې ګټې وکړې او چا ته په کې تاوانونه واوښتل؟ چې په راتلونکو برخو کې به پرې رڼا واچول شي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

غوارم یو مهم او اساسي ټکي ته اشاره وکړم، هغه دا چي سوله په یوه قوت، قوی او ژمنه اراده او استقلالیت تر سره کیدای شي، دا چي وائي: «ږیره زما واک یې د ملا» ایا په داسي موقعیت او وضعیت کي امکان شته چي سوله مدیریت او راوستل شي؟

سوله د یوې ټولني او په ټولنه کي د اوسیدونکو انسانانو طبعي حق دی، له انسانانو نه د داسي حقوقو اخیستل یو بشري جنایت دی او هر څوک چي دا جنایت کوي او یا د دا ډول جنایت پلوي کوي تاریخ ته محکوم دی.

نولس کلنه روانه نیابتي جګړه هم یو جنایت دی، چي د یو شمیر حریصو ګاونډیو او د نړۍ د زبرځواکو هیوادو د ستراتیژکو موخو د عملي کیدو په خاطر ورته لمن وهل کیږي، تمویلیږي، مګر بیه یي افغان مظلوم ولس ورکوي.

د سولي روان بهیر چي مدیریت یي د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت د استازی خلیل زاد له لوري عملي او تر سره شو، ایا د سولي د هلو ځلو عنوان ورته ورکولای شو؟

ایا تاسو داسي یو هیواد په نړۍ کي پیژنئ چي مخالفین، اپوزیشن، سیاسیون ، د ګوندونو استازی  او په نظام کي دننه افراد یي د دولت او نظام د خبر او توافق پرته په دپلوماتیکو پاسپورتونو د نړۍ نورو هیوادو ته ورځی د نظام د مخالیفینو سره د سولي په رابطه خبرې اترې کوي.

د داسي سولي هلي ځلي به مو لیدلي وي، کوربه هیواد چي د جګړې یو اساسي اړخ دی د سولي د خبرو له جزئیاتو نه خبر نه وي، او یا په داسي حالت کي سوله راتلای شي چي طالبان وائی له امریکا سره نوره جګړه نه کوم خو خپل هیوادوال وژنم او یا دا چي له طالب سره سوله کوم، خو په خپله نظام کي ګډه ژبه، تفاهم یو واحد غږ او عمل نه شم عملي کولای.

نظام موجود دی، درې ګوني قواوې موجودې دي، ځواکمن امنیتي ارګانونه شته خو قانون نه شم پلی کولای.

که په ځیر سره وګورو  د دولت داسي داخلي اپوزیسیون به مو لیدلي وي چي همدا اوس په نظام کي پنځوس سلنه لوړ مقامات ورسره وي او نور هم د پنځوس سلني د غوښتني دعوه ولري. ایا د خندا او تعجب خبره نه ده؟

زما په اند سوله هغه وخت راتلای شي چي د سولي اړخونه سره تثبیت شي. د سولي پلویان او دښمنان باید وپیژندل شي

د جنګ د دواړو اړخونو پروګرام او د سولي غوښتني او اړتیاوې باید د جګړې د دواړو اړخونو له لوري، له ولس سره شریکي شي. د ولس استازي باید د سولي د مذاکراتو منځګړیتوب وکړي. سیمه ایز او بین المللي ناظرین باید د سولي په پروسه کي فعال سهم ولري.

منځګړي سوله ساتي ځواکونه باید لا پخوا رامنځ ته شوی وای، چي د دواړو اړخونو له خوا منل شوي وای. د کورنیو او بهرنیو هیوادو د استازو په ګډون، د سولي د پروسي د نظارت یو کاملاً بی پرې فوق العاده کمیسون باید جوړ شوی وای، چي ضرورت یي اړین دی.

دا هغه نیمګړتیاوې او اړتیاوې دي چي د سولي په روانه پروسه کي یي د نه شتون له امله د سولي پروسه ټکنی کړه او د هیوادوالو د سولي هیلي یي د یاس او نا اومیدۍ لور ته واړولي.

یوه بله اړینه موضوع چي د مخه هم ورته اشاره شوي په هیواد کي د رواني سولي د دوستانو او دښمنانو انډول، موقف، موقیعیت او امکانات دي، چي په ډیرې خواشینی سره ویلای شو چي د سولی د دښمنانو پله ځکه درنه ده چي هم ځواک لري او هم اقتصادي امکانات او د سولي پلویان چي مظلوم ولس دی، نه اقتصاد لري او نه وسائل، مګر یو څه لري هغه اراده او ځواک دي، که چیری ویښ شي، متحد شي، یو غږ او اواز شي، بیا نو هر څه تر لاسه کولای شي، چي په راتلونکو برخو کي به د سولي د دښمنانو، پلویانو او د افغان ولس د ځواکمن کیدو په هکله لازم معلومات وړاندی شي.

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ